# قارُون ته نصيحت

**01-February-24**



هفته وراه د سُنَّتو ډکه اِجتماع کښې کیدونکے

د سُنَّتو ډک بیان

(for Islamic Brothers)

په يکم فروردئ کال 2024ء د پاکستان په هفته وارو اجتماعاتو کښې کيدونکے بيان

# قارُون ته نصيحت

په دې بيان کښې به تاسو زده کړئ...

- ... قارُون ته پينځه نصيحتونه
- ...د يو مغروره عبرتناک انجام
- ... د بادشاهانو عبرتناکې جُملې
- ... مونږ د مال مالِکان نه، وکيلان يو

پيشکش
اَلْمَدِيْنَةُالْعِلْمِيَة
Islamic Research Center
(شعبه: بياناتِ دعوتِ اسلامي)

*For Feedback*:+92 315 2692786

اَلۡحَمۡدُ لِلّٰهِ رَبِّ الۡعٰلَمِیۡنَ وَ الصَّلٰوۃُ وَ السَّلَامُ عَلٰی سَیِّدِ الۡمُرۡسَلِیۡنَ
اَمَّا بَعۡدُ فَاَعُوۡذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّیۡطٰنِ الرَّجِیۡمِ ط بِسۡمِ اللّٰهِ الرَّحۡمٰنِ الرَّحِیۡمِ ط

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا رَسُوۡلَ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا حَبِیۡبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوۃُ وَالسَّلَامُ عَلَیۡكَ یَا نَبِیَّ اللّٰه وَعَلٰی اٰلِكَ وَاَصۡحٰبِكَ یَا نُوۡرَ اللّٰه

نَوَیۡتُ سُنَّتَ الۡاِعۡتِکَافِ (ترجمه: ما د سُنَّت اعتکاف نِيَّت اوکړو)

## د دُرُودِ پاک فضيلت

د **اللّٰه** پاک آخري نبي **محمدِ** عربي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد فرمائيلے: د قيامت په ورځ به د **اللّٰه** پاک د عرش نه سِوا بل يو سورے نه وي، درې کسان به د **اللّٰه** پاک د عرش په سوري کښې وي (1):هغه کس څوک چې زما د اُمَّتي پريشاني لرې کړي (2):زما سُنَّت ژوندي کوونکے (3):په ما باندې کثرت سره درود شريف لوستونکے.[1]

| | |
|---|---|
| ذاتِ والا په بار بار دُرود | بار بار اور بے شُمار دُرود |
| قبر میں خوب کام آتی ہے | بیکسوں کی ہے یارِ غار دُرود(2) |

صَلُّوۡا عَلَی الۡحَبِیۡب! صَلَّی اللّٰهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

## د بيان اوريدلو نيتونه

په **حديثِ پاک** کښې دي: اِنَّمَا الۡاَعۡمَالُ بِالنِّیَّات د اعمالو دار و مدار په نيتونو دے. (3)

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! ښه نيت بنده جنت ته رسوي، د بيان اوريدو نه مخکښې

---

[1] (البدور السافرة، ص169، 170، حديث:364)

[2]...ذوقِ نعت، صفحہ:123 تا 125 ملتقطاً۔

[3]...بخاری، کتاب بدء الوحی، صفحہ:65، حدیث:1۔

خه ښه ښه نِيّتونه اوکړئ: مَثَلاً ❀د الله پاک د رضا د پاره به ټول بيان اورم ❀عِلمِ دِين به زده کووم ❀په اَدَب به کښېنم ❀نصيحت به حاصلووم ❀د اَحمَدِ مجتبیٰ، مُحَمَّد مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په پاک نوم اورېدو به درودِ پاک لولم.

صَلُّوا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د قارُون عبرتناکه واقعه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! قارُون د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د ترۀ ځوي وو ❀ډېر مالداره وو ❀ډېر ښکلے هم وو ❀ د آسماني کتاب تورات شريف ډېر ښه قاري هم وو ❀بيا ده ته مال عطا کړے شو. ❀ **د روايتونو مطابق** چې کله به قارُون سورلئ ته اوختو نو په ډېرو قچرو باندې خو به صرف د هغه د خزانې کُنجيانې بار کړے شوې وې. د دومره مال حاصليدو نه پس پکار خو دا وو چې ده د الله پاک په حُضُور کښې سر ټيټ کړے وے، د هغه شُکر يې ادا کړے وے خو هغه بدبخته، بد باطِن اوختو، د سرکشئ لاره يې اختيار کړه او مُنافِق شو. (1)

علمائے کرام فرمائي: قارُون د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام سره حسد کولو، نو دې بدبخته د يو څو کسانو سره خپله يوه بيله ډله جوړه کړه، ډېر عاليشان کور يې جوړ کړو، په هغې کښې يې د سرو زرو دروازه اولګوله، په ديوالونو يې هم د سرو زرو کار اوکړو. د بني اسرائيلو خلق به سحر او ماښام د هغه خوا له راتلل، ډوډئ ګانې به يې خوړلې، خبرې به يې راجوړولې او قارُون به يې خندولو.

د قارُون د دې ټولو خَباثتونو باوجود حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام د هغه سره ښه سلوک کولو خو هغه به هر وخت دوئي ته تکليف رسولو، د هغه سرکشي او تکبر ورځ په ورځ

---

[1]...حاشيه صاوی مع جلالين، پاره:20، سورۀ قصص، زيرِ آيت:76 تا 81، جلد:2، صفحه:300و303 ملتقطاً۔

زياتيده. آخِر يو ځل چې کله د زکوٰة حکم نازل شو او حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام قارُون ته هم د زکوٰة ورکولو حکم اوکړو نو د مال په لالچ کښې دې بدبخته د بے حيايئ انتها اوکړه. يوې زنانه له د رقم لالچ ورکړو او په دې خبره يــې راضي کړه چې هغه د **الله** پاک په نبي حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام باندې د بدکارئ الزام اولګوي. هغه زنانه د مال په لالچ کښې راغله او د دې غټې ګناه د پاره راضي شوه خو د بني اسرائيلو په ګڼه کښې يــې په حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام باندې د داسې ګندا الزام لګولو جُرأت اونکړے شو او د **الله** پاک د ويرې له وجهې يــې هر څه رښتيا رښتيا اووئيل.

د قارُون دومره ګنده شرارت يــې چې اوليدو نو حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ډير خفه شو، هغوئي عَلَيْهِ السَّلَام سر په سجده شو او عرض يــې اوکړو: **اے الله پاکه! که زه ستا رښتونے رسول يم نو په قارُون باندې غضب نازِل کړې.** د حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام دا دُعا قبوله شوه او حکم اوشو: اے موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام ! زمکې له ستاسو د خبرې منلو حکم ورکړے شوے دے، تاسو چې دې ته کوم حکم غواړئ اوکړئ. حضرت موسیٰ عَلَيْهِ السَّلَام زمکې ته حکم اوکړو نو زمکې قارُون او د هغه ملګري او ټولې خزانې ځان ته راښکلې. [(1)]

**صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد**

## قارُون ته پينځه نصيحتونه

**خوږو او محترمو اسلامي ورونو!** په قرآنِ کريم کښې په يو څو ځايونو کښې د عبرت د پاره د قارُون ذِکر شوے دے. په شلمه سيپاره، سوره قصص، آيت 76 او 77 کښې **الله** پاک ارشاد فرمائي:

[1] ... حاشيہ صاوی مع جلالين، پارہ:20، سورۂ قصص، زيرِ آيت:76 تا 81، جلد:2، صفحہ:300 تا 303 ملتقطاً۔

اِنَّ قَارُوْنَ كَانَ مِنْ قَوْمِ مُوْسٰى فَبَغٰى عَلَيْهِمْ ۪ وَاٰتَيْنٰهُ مِنَ الْكُنُوْزِ مَاۤ اِنَّ مَفَاتِحَهٗ لَتَنُوْٓاُ بِالْعُصْبَةِ اُولِى الْقُوَّةِ ۗ اِذْ قَالَ لَهٗ قَوْمُهٗ لَا تَفْرَحْ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْفَرِحِيْنَ ﴿۷۶﴾ وَابْتَغِ فِيْمَاۤ اٰتٰىكَ اللّٰهُ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ وَلَا تَنْسَ نَصِيْبَكَ مِنَ الدُّنْيَا وَاَحْسِنْ كَمَاۤ اَحْسَنَ اللّٰهُ اِلَيْكَ وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِى الْاَرْضِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۷۷﴾

[مفهوم]ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: بیشکه قارون د موسٰی د قوم نه وو بیا هغه په قوم زیاتے اوکړو او مونږه هغه ته دومره خزانے ورکړې چې د هغې کُنجیانې (اوچتول) په یوه طاقتوره ډله درنې وې. چې کله هغه ته د هغه قوم اُووئیل: فخر مه کوه، بیشکه **الله** فخر کوونکي نه خوښوي (۷۶) او کوم مال چې تا لره **الله** درکړے دے د هغې په ذریعه د آخرت کور طلب کړه او د دُنیا نه خپله حِصَّه مه هیروه او احسان اوکړه څنګه چې **الله** په تا احسان اوکړو او په زمکه کښې فساد مه کوه، بیشکه **الله** فسادیان نه خوښوي (۷۷)

دا پینځه نصیحتونه دي کوم چې د بني اسرائیلو نیکانو مسلمانانو قارُون ته کړي وو، که قارُون د هغوئې نصیحتونه منلے وے، په دې یـې عمل کړے وے نو د بد انجام نه بچ کیدے شو خو دا بدبخته وو، د هغه په زړه باندې تور والے راخور وو، دې بد انجامه د نیکانو مسلمانانو هغه نصیحتونه سنجیده وانخستل، هغه ښکلي ښکلي نصیحتونه یـې په یو غوږ واوریدل او په بَل یـې ویستل. بیا نتیجه څه اوشوه؟ دا بدبخته په خپله سرکشۍ کښې مخکښې روان وو، روان وو، تر دې چې د حضرت موسیٰ عَلَیْہِ السَّلَام ګستاخي یـې اوکړه او په زمکه کښې دننه کړے شو او [تر قیامته پورې د] راتلونکو د پاره د عبرت نښه جوړه شوه.

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! په دې 5 نصیحتونو کښې زمونږ د ټولو د پاره په خاص طور د مالدارانو د پاره ډیر سبق دے. **د دې پینځۇ نصیحتونو لږ وضاحت اورو:**

## (1): قارُون ته وړومبے نصيحت

نيکانو مسلمانانو نصيحت اوکړو او قارُون ته يې اووئيل:

لَاتَفۡرَحۡ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الۡفَرِحِيۡنَ ﴿۷۶﴾ [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: فخر مه کوه، بيشکه اللّٰه فخر کوونکي نه خوښوي.

(پاره:20، القصص:76)

يعنې اے قارونه...! اللّٰه پاک تا له مال درکړے دے، ته په دې مال باندې فخر او تکبُّر کول او ځان لوئے ګڼل پريږده، بېشکه اللّٰه پاک تکبر کوونکي، ځان لوئے ګڼلو والا نه خوښوي.[1]

## د خوشحالۍ دوه قِسمونه

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! په دې ځائے کښې يوه خبره په ذِهن کښې کښېنوئ! په څه نعمت حاصليدو باندې چې کومه خوشحالي وي، هغه خوشحالي په دوه قِسمه وي (1): يوه ده د غاوِره کيدو [تکبر کولو] خوشحالي يعنې (فخر کول، مثلاً ✿ زه دومره مالداره يم ✿ زما بينک بيلنس زيات دے ✿ زما سره بنګلې ډيرې دي ✿ زه په دومره غټو غټو ګاډو کښې ګرځم وغيره)، دا فخر کول، غاوره کيدل [تکبر کول]، حرام دي. (2): او بَله ده د شکرانې خوشحالي (مثلاً چا ته نعمت حاصل شو ✿ زړۀ يې ورسره نرم شو ✿ په زړه کښې يې د شُکر جذبې پيدا شي ✿ سوچ ورځي چې: آه! زه خو بے کاره سړے يم ✿ زما رَبّ په ما باندې څنګه کرم اوکړو ✿ ما ته يې داسې نعمتونه عطا کړل ✿ يعنې بنده خوشحاليږي او ✿ په خوشحالۍ کښې مال تقسيموي ✿ د غم ځپلو غمرازي کوي ✿ د رَبّ تَعالٰی په لار کښې يې لګوي ✿ ديني محفلونه منعقد کوي ✿ نيک کارونه کوي ✿ بهر حال د هغه په زړۀ کښې

[1] ...تفسيرِ جلالين، پاره: 20، سورۀ قصص، زيرِ آيت: 76، صفحه: 333 بتصرف۔

د شکر جذبات دي او هغه په دې نعمت حاصليدو باندې د شکر په دې جذبه کښې خوشحاليږي) دا چې کومه خوشحالي ده، دا عبادت دے. **الله** پاک فرمائي:

قُلۡ بِفَضۡلِ اللّٰهِ وَ بِرَحۡمَتِهٖ فَبِذٰلِكَ فَلۡيَفۡرَحُوۡا ؕ (پاره:11، يُونُس:58)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: ته اوفرمايه: د **الله** په فضل او د هغه په رحمت باندې خوشحالئ کول پکار دي.

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! مونږ له پکار دي چې مونږه هميشه دا خبره په خپل زړهٔ کښې کښينوو، خپل دا عادت جوړ کړو چې که د وړوکي نه وړوکے نعمت راته حاصل شي يا د غټو نه غټ انعام رانصيب شي ❁ چرې هم په نعمت حاصليدو غاوره نشو ❁ فخر اونکړو ❁ تکبر اونکړو بلکې ❁ د شُکر په جذباتو کښې مغلوبه شو او خپل سر د رَبّ تَعَالٰی په حُضُور کښې ټيټ کړو ❁ د هغه شُکر ادا کړو او د شُکر د جذباتو سره خوشحالي اوکړو. **اوګورئ!** قارُون ته مال ميلاؤ شو، دا د **الله** پاک انعام وو خو دا بدبخته ❁ غاوره شو ❁ د فخر په طور ❁ د تکبر په طور خوشحاله شو ❁ هغه لوئي اوکړه، بيا د هغې څه نتيجه راغله، **دغه بدبخته د خپلو خزانو سره زمکې رانسکلو.**

## د يو مغروره عبرتناک انجام

په قرآنِ کريم کښې يوه عبرتناکه واقعه بيان شوې ده. زه د تفسيرونو په رڼا کښې په مختصر طور باندې دا واقعه عرض کووم. واقعه څه داسې ده چې دوه کسان وو، يو کافِر وو او بَل مسلمان وو. کوم چې کافِر وو، هغه ډير مالداره وو، هغه سره د کجورو دوه باغونه وو، په هغې کښې د انګورو بوټي هم وو او په زمکه هغه فصل هم ګرلے وو. يعني دوه باغونه وو او په دواړو باغونو کښې درې قِسمه پيداوار وو: **(1):** په هغې کښې کجورې هم وې **(2):** انګور هم وو **(3):** او فصل (مثلاً غنم وغيره) هم پکښې وو. په دې باندې يو بَل نعمت چې د دې باغونو په مينځ کښې يوه وَله هم تيره شوې وه، يعني د هغه خرچ د

نشت برابر وو، اوبه به ورته هم په پيسو اخستل نه وې او پيداوار يـې درې قِسمه وو، بيا د پوره اوبو ميلاويدو په وجه دواړه باغونه تازه هم وو، لهٰذا كجورې هم ښه په كثرت سره اوشوې، انګور هم ښه ډېر اوشول او فصل هم ښه ښكلے اوشو، بيا د دې سره سره هغه كافِر له نور هم ډېر زيات مال او دولت وركړے شوے وو. د هغه سره، سرۀ زر هم وو، سپين زر هم وو او نور هم ډېر زيات مال وو.

بيا د دومره مال په وجه هغه غاوره شو، په فخر او تكبر كښې اخته شو او دويم ګس كوم چې مسلمان وو او غريب هم وو، دا مالداره ګس غاوره شو او مسلمان ته يـې اووئيل:

اَنَا اَكْثَرُ مِنْكَ مَالًا وَّ اَعَزُّ نَفَرًا ﴿۳۴﴾ (پاره:15، اَلْكَهْف:34)

[مفهوم] ترجمۀ كنزُ الْعِرفان: زه ستا نه زيات مالدار يم او د كسانو په اعتبار هُم زيات طاقت لرم.

يعني ❀ زه ستا نه ډېر مالداره يم ❀ زما سره طاقت هم ډېر دے ❀ زما قوم ❀ او خاندان هم غټ دے ❀ او زما نوكران هم زيات دي.

بيا دا غاوره كيدونكے ډېر په خوشحالئ خوشحالئ خپل باغ ته داخل شو او د تكبر نه يـې اووئيل:

مَاۤ اَظُنُّ اَنْ تَبِيْدَ هٰذِهٖۤ اَبَدًا ﴿۳۵﴾ (پاره:15، اَلْكَهْف:35)

[مفهوم] ترجمۀ كنزُ الْعِرفان: زه ګمان نه كووم چې دا (باغ) به كله فنا شي.

هغه كوم چې مسلمان وو، اګر كه غريب وو خو د ايمان لازوال دولت ورسره وو، هغۀ، هغه مالداره غاوره كيدونكي ته په نصيحت كښېاووئيل:

اَكَفَرْتَ بِالَّذِیْ خَلَقَكَ مِنْ تُرَابٍ ثُمَّ مِنْ نُّطْفَةٍ ثُمَّ سَوّٰىكَ رَجُلًا ﴿۳۷﴾ لٰكِنَّا۠ هُوَ اللّٰهُ رَبِّیْ وَ لَاۤ اُشْرِكُ بِرَبِّیْۤ اَحَدًا ﴿۳۸﴾ وَ لَوْ لَاۤ اِذْ دَخَلْتَ

[مفهوم] ترجمۀ كنزُ الْعِرفان: آيا ته هغه سره كُفر كوې چا چې ته د خاورې نه جوړ كړې، بيا ئې د نُطفې نه، بيا ئې ته بالكل صحيح سړے جوړ كړې(۳۷) ليكن (زه خو هُم دا وايم چې) هُم هغه الله زما رب دے او زه هيڅ څوک هُم د خپل رب

جَنَّتَكَ قُلْتَ مَا شَآءَ اللّٰهُ ۙ لَا قُوَّةَ اِلَّا بِاللّٰهِ ۚ
اِنْ تَرَنِ اَنَا اَقَلَّ مِنْكَ مَالًا وَّ وَلَدًا ﴿۳۹﴾ ۚ فَعَسٰى
رَبِّیْۤ اَنْ یُّؤْتِیَنِ خَیْرًا مِّنْ جَنَّتِكَ وَ یُرْسِلَ عَلَیْهَا
حُسْبَانًا مِّنَ السَّمَآءِ فَتُصْبِحَ صَعِیْدًا زَلَقًا ﴿۴۰﴾ ۙ اَوْ
یُصْبِحَ مَآؤُهَا غَوْرًا فَلَنْ تَسْتَطِیْعَ لَهٗ طَلَبًا ﴿۴۱﴾

(پارہ:15، اَلْکَہْف:37تا41)

شريک نه جوړووم(۳۸) او داسې ولې اونشو چې ته کله خپل باغ ته تلے وے نو وئيلے دې وے: (چې : دا هر څه هغه دي) څه چې **الله** اُوغوښتل، ټول قُوَّت هُم د **الله** په مدد سره دے.که ته ما په خپله مقابله کښې په مال او اولاد کښې کم وِينې(۳۹) نو نزدې ده چې زما **رب** ما ته ستا د باغ نه بهتر عطا کړي او ستا باغ باندې د آسمان نه تندرونه راپريباسي نو هغه هوار ميدان پاتې شي(٤٠) يا د دې باغ اوبه په زمکه ننوځي، بيا ته دا هيڅ کله تلاش نه کړے شې(٤١)

يعني اے غاوره کيدونکيه! تا به داسې ولې کول...؟ آيا ته د هغه قدرتونو والا **رَبّ تَعَالٰی** نه انکار کوې ❀ چا چې د خاورې نه نطفه جوړه کړه ❀ بيا يې د دې نطفې نه تهٔ صحيح سلامت اندامونو والا انسان جوړ کړې. خومره ښه به وه چې تهٔ باغ ته داخل شوے وے نو د **الله** پاک د نعمتونو اقرار دې کړے وے، هغه نعمتونه دې خپل فضيلت نهٔ بلکې د **الله** پاک انعام ګڼلے او د هغه شکر دې ادا کولے او وئيلے دې: مَا شَآءَ اللّٰہُ، لَا قُوَّۃَ اِلَّا بِاللّٰہ که چرې تا داسې کولے نو ستا د پاره به بهتره وه. خو تهٔ غاوره کيږې او ما غريب او نادار ګڼې، آيا دا ممکنه نه ده چې په دې باغ باندې آسماني تندر راپريوځي او هر څه تباه او برباد شي او **الله** پاک ما ته ستا د دې باغ نه هم بهتر باغ راعطا کړي.

يعني **الله** پاک تا ته مال عطا کړو، زه يې غريب اوساتلم، دا د هغه تقسيم دے، د هغه عنايت دے، هغه چې چا له غواړي، خنګه غواړي ساتي يې، په دې کښې د غاوره کيدو څه خبره ده، دا خو هم ممکنه ده چې تهٔ کنګال شې او ما ته مال عطا کړے شي، آيا بيا به دا صحيح وي چې زه غاوره شم...؟ نهٔ...!! هيڅکله هم نه، غاوره انسان د **رَبِّ**

کریم هیڅکله هم نه خوښیږي، لهٰذا غاوره کیږه مه بلکې د اللّٰه پاک شکر ادا کړه...!!

خو د هغه غیر مسلمه مالداره سر ته د دولت نشه ختلې وه، هغه په غرور او تکبر او فخر او غاورتیا کښې اخته وو، بیا د هغه د فخر او تکبر نتیجه څه راغله...!! په هغه باندې د اللّٰه پاک عذاب نازل شو، د هغه کښ، شنه باغونه هر څه تباه شول، د هغه په نور مال او اسباب باندې هم عذاب راغے، د هغه هر څه برباد شول، بیا هغه لاس مروړل او په ارمان سره یې د هغه غریب مسلمان نصیحت یادولو او وئیل یې:

| | |
|---|---|
| یٰلَیْتَنِیْ لَمْ اُشْرِكْ بِرَبِّیْۤ اَحَدًا ﴿۴۲﴾ (پاره:15، اَلْکَھْف:42) | کاش چې ما خپل **رب** سره څوک نه وے شریک کړے. |

کاش چې ما د هغه مسلمان نصیحت منلے وے...!! (1) خو

**چې اوبه د ورخه تیرې شي نو بیا څه کیدے شي.**

**اللّٰه** پاک فرمائي:

| | |
|---|---|
| وَ لَمْ تَكُنْ لَّهٗ فِئَةٌ یَّنْصُرُوْنَهٗ مِنْ دُوْنِ اللّٰهِ وَ مَا كَانَ مُنْتَصِرًا ﴿۴۳﴾ هُنَالِكَ الْوَلَایَةُ لِلّٰهِ الْحَقِّ ؕ (پاره:15، اَلْکَھْف:43، 44) | [مفہوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او هغه سره څه داسې ډله نه وه چې د **اللّٰه** په وړاندې ئې د هغه مدد کړے وے او نه هغه پخپله د بدل اخستلو قابل وو (۴۳) دلته معلومه شوه چې ټول اختیار د رښتینې **اللّٰه** دے. |

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا ډیره ښکلې خبره ده، د قرآنِ کریم دا جمله په خپل زړهٔ باندې نقش کول پکار دي: اَلْوَلَایَةُ لِلّٰهِ الْحَقِّ ؕ ټول اختیار د رښتوني **اللّٰه** دے. مونږه په کومه خبره باندې غاوره شو، په کومه خبره باندې فخر اوکړو، په کومه خبره باندې تکبر اوکړو؟ زمونږه څه دي؟ اَلْوَلَایَةُ لِلّٰهِ الْحَقِّ ؕ ټول اختیار د رښتوني **اللّٰه** دے.

---

1 ...رُوحُ الْمَعَانِی، پاره:15، سورۂ کہف، زیر آیت:32 تا 42، جلد:8، صفحہ:344 تا 356 خلاصۃً۔

❁ ځکه چې هم فخر مه کوئ ❁ تکبر مه کوئ ❁ غاوره کيږئ مه ❁ **الله** پاک که چا ته مال عطا کړے دے نو دا د هغه عطا ده ❁ او که هغه څوک غريب اوساتو نو دا د هغه تقسيم دے. بس سر ټيټ ساتئ. **په حديثِ پاک کښې دي**: مَنْ تَوَاضَعَ لِلّٰهِ رَفَعَهُ الله يعني څوک چې د **الله** پاک د پاره عاجزي اختيار کړي، **الله** پاک هغه ته اوچتوالے عطا کوي. [(1)]

مٹا دے اپنی ہستی کو اگر کچھ مرتبہ چاہے
کہ دانہ خاک میں مِل کر گُلِ گلزار بنتا ہے

[**د شعر مفهوم**: يعني که څه مرتبه غواړې نو عاجزي اختيار کړه ځکه چې دانه کله په خاورو کښې ګډه شي نو ګلونه نيسي]

**الله** پاک دې مونږه ❁ د مال او دولت ❁ د حُسن او جمال ❁ ښه آواز ❁ ښو اخلاقو ❁ زياتې عقلمندئ ❁ د تيزو دماغو او نورو نعمتونو په معامله کښې په فخر او تکبر او غاورتيا کښې د اخته کيدو نه **محفوظ** اوساتي او هميشه دې د ځان خوښئ نه د بچ کيدو او د عاجزئ اختيارولو توفيق رانصيب کړي.

اٰمِين بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم .

گناہوں سے مجھ جو بچا یا الٰہی! | بُری عادتیں بھی چُھڑا یا الٰہی!
مجھے مال و دولت کی آفت نے گھیرا | بچا یا الٰہی! بچا یا الٰہی!
نہ دے جاہ و حَشمت نہ دولت کی کثرت | گدائے مدینہ بنا یا الٰہی! (2)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

[1] … معجم اوسط، جلد:3، صفحہ:382، حديث:4894۔

[2] …وسائلِ بخشش، صفحہ:100، 101 ملتقطاً۔

## (2): قارُون ته دويم نصيحت

د بني اسرائيلو نيکانو بندګانو قارُون ته دويم نصيحت اوکړو او اوئې وئيل:

| | |
|---|---|
| وَابْتَغِ فِيْمَآ اٰتٰىكَ اللّٰهُ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ (پاره:20، قصص:76) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او کوم مال چې تا لره الله درکړے دے د هغې په ذريعه د آخرت کور طلب کړه. |

دا هم ډير ښکلے نصيحت دے، **الله** پاک چې څه درعطا کړي دي ❀مال دے ❀دولت دے ❀ ښه آواز دے ❀ ښه صحت دے ❀ ځواني ده ❀ ساه ګاني دي ❀ څه چې هم **رَبّ** درکړي وي په هغې سره دُنيا نهٔ بلکې آخرت طلب کړئ!

## د آخرت طلب ګار جوړ شئ...!!

د مسلمانانو څلورم خليفه حضرت علي الـمرتضٰی شير خدا رضی اللہ عنہ اوفرمائيل: خلقو! آخرت راروان دے، دُنيا روانه ده. په دې کښې د هر يو طلب ګار دي. **تاسو د آخرت طلب ګار جوړ شئ! د دنيا طلب ګار مه جوړيږئ...!!** [1]

ځکه د آخرت طلب ګار جوړ شئ، چې دنيا روانه ده...!! که ❀ مونږه خپله ځواني په دُنيا اولګوو نو دُنيا هم ختمه، ځواني هم ختمه ❀ که مونږه خپل مال په دُنيا جوړولو اولګوو نو دُنيا هم ختمه، مال هم ختم...!! او که مونږه ❀ خپله ځواني ❀ خپل طاقت ❀ خپل ذهانت ❀ خپل سوچ ❀ خپل صلاحيتونه ❀ خپل مال د دنيا د پاره نهٔ بلکې د آخرت د پاره اولګوو نو دا ❀ ځواني ❀ طاقت ❀ مال او دولت که ختم هم شي خو آخرت به باقي پاتې وي. ځکه عقل مند هغه دے څوک چې د دُنيا نهٔ بلکې د آخرت طلب ګار جوړ شي.

---

[1] ...بخاری، کتاب الرقاق، باب فی الامل وطولہ، صفحہ:1581۔

## انسان ته به هغه څه ميلاويږي څه چې يې وړاندې ليږلي وي

يو ځل حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه د خليفه سليمان بن عبد الـملک سره په سفر باندې روان شو. (پخوا به په اوښانو او آسونو وغيره باندې سفر کيدو او د خادمانو په ذريعه به خيمې او د ضرورت سامان د مخکښې نه منزل ته رسولے شو د پاره د دې چې هلته د رسيدو نه مخکښې خيمې تيارې وي)، هم دغه رنګ خليفه سليمان بن عبد الـملک او نورو خلقو خپلې خيمې وړاندې اوليږلې خو حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه خپل سامان او خيمه مخکښې اونه ليږله. کله چې منزل ته اورسيدل نو هر کَس خپلې خيمې ته لاړو خو حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه چرته نه ښکاريدو، خليفه خادمانو ته اووئيل: لاړ شئ! هغوئي اولټوئ...!! چې اوئې لټولو نو هغوئي په دې حالت کښې ميلاو شول چې د يوې وَنې لاندې ناست دے او ډير زيات ژاړي. خليفه خبر کړے شو، هغه هغوئي رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه را اوغوښتو او پوښتنه يې ترينه اوکړه: اے اَبُوحَفص (عمر بن عبد العزيز)! تاسو ولې ژاړئ؟ حضرت عمر بن عبد العزيز رَحۡمَةُ اللهِ عَلَيۡه **د آخرت په فِکر** کښې ډوب، د سبق نه ډک جواب ورکړو، اوئې فرمائيل: ما ته د قيامت ورځ رايادة شوه. **اوګورئ! (تاسو ټولو خيمې مخکښې راليږلې وې، تاسو چې څنګه راغلئ نو خپلو خپلو خيمو ته لاړئ خو) ما د کور نه څه څيز مخکښې نه وو راليږلے، ځکه دلته ما ته هيڅ ميلاو نه شول، په قيامت کښې به هم دا حال وي، چا چې څه وړاندې ليږلي وي، هغه ته به هم هُغه څه ميلاوئيږي.** (1)

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب!   صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! واقعي چې د عبرت خبره ده، که مونږه خپل هر څه په دُنيا جوړولو کښې اولګوو، د آخرت د پاره هيڅ هم وړاندې اونه ليږو نو دنيا خو به ډيره

1...سيرة عمر بن عبد العزيز لابن عبد الحكم، صفحه: 27 بتصرف قليل۔

زر ختمه شي، مونږه به هم فنا شو، بيا به په آخرت کښې زمونږه هيڅ نه وي، بيا به مونږ څه کوو؟ بيا به صرف د ارمان سره هم دا وايو:

يٰلَيْتَنِيْ قَدَّمْتُ لِحَيَاتِيْ ۝۲۴ (پاره:30، اَلْفَجْر:24)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: اے کاش چې ما په خپل ژوند کښې (څه نيکي) مخکښې ليږلې وے (۲۴)

ځکه اوس هم وخت دے، مونږ لا اوس ژوندي يو، چې مونږه دا ښکلے نصيحت قبول کړو:

وَابْتَغِ فِيْمَآ اٰتٰىكَ اللّٰهُ الدَّارَ الْاٰخِرَةَ (پاره:20، قصص:76)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او کوم مال چې تا له **اللّٰه** درکړے دے د هغې په ذريعه د آخرت کور طلب کړه.

او د دُنيا نهٔ بلکې د آخرت طلب ګار جوړ شو، **اللّٰه** پاک چې مونږ ته څه عطا کړي دي، د هغې په ذريعه مونږه دُنيا نهٔ بلکې آخرت طلب کړو.

## د جنّتي محل سودا

حضرت مالک بن دينار رحمۃُ اللہِ علیہ ډير لوئي وَلِيُّ اللّٰه دے، يو ځل هغوئي په يو ځائے تيريدلو، اوئې کتل چې يو عالي شان کور جوړيږي او يو ښکلے ځلمے کِلکارانو، مزدورانو او کار کوونکو ته ډير په توجُّه سره د کار په باره کښې وائي. دا يې چې واوريدل نو حضرت مالک بن دينار رحمۃُ اللہِ علیہ هغه ځلمي ته ورنزدې شو او سلام يې اوکړو، چې کله يې د يو بَل سره تعارف اوشو او هغه ځلمي ته پته اولګيده چې دا حضرت مالک بن دينار رحمۃُ اللہِ علیہ دے نو هغه د هغوئي ډير عزت اوکړو، احترام يې اوکړو. حضرت مالک بن دينار رحمۃُ اللہِ علیہ ترينه ډيره په مينه پوښتنه اوکړه: تاسو په دې عالي شان کور باندې څومره رقم لګول غواړئ؟ ځلمي اووئيل: يو لاکھ درهم (يعني د سپينو زرو يو لاک اشرفۍ). اوئې فرمائيل: که دا رقم تاسو ما له راکړئ نو زه ستاسو د پاره د يو داسې عالي شان محل ضمانت

درکووم، کوم چې د دې نه ډېر ښکلے او پائيدار دے. د هغې خاوره به د مشکو او زعفرانو وي، هغه به چرې هم نه راپريوځي او صرف محل به نه وي بلکې په هغې کښې به خادمان، وينزې او د سرو ياقوتو قباګانې، ډيرې شاندارې او ښکلې خيمې وغيره هم وي او هغه محل ګِلکارانو نه دے جوړ کړے بلکې هغه صرف د الله پاک په کُن (يعني اوشه) وئيلو جوړ شوے دے. ځلمي په جواب کښې عرض اوکړو: ما له په دې باره کښې د سوچ د پاره يوه شپه وخت راکړئ. حضرت مالک بن دينار رحمۃ اللہ علیہ اوفرمائيل: ډيره بهتره ده.

د دې خبرو نه پس حضرت مالک بن دينار رحمۃ اللہ علیہ تشريف يوړلو، حضرت مالک بن دينار رحمۃ اللہ علیہ ته د شپې بيا بيا د هغه ځلمي خيال راتلو او هغوئي رحمۃ اللہ علیہ د هغه د پاره د خير دعاګانې کولې. سحر يې بيا په هغه لور تشريف يوړلو نو ځلمي د هغوئي انتظار کولو. ځلمي ډېر په جوش سره هغوئي ته هر کلے اووئيلو او اوئې وئيل: آيا تاسو ته پرونئ خبره ياده ده؟ اوئې فرمائيل: ولې نه! ځلمي فوراً د يو لاکھ درهمو (د سپينو زرو د اشرفو) تيلئ هغوئي ته حواله کړه او اوئې وئيل: دا واخلئ زما ټول مال او دا حاضر دي قلم، دوات او کاغذ.

حضرت مالک بن دينار رحمۃ اللہ علیہ کاغذ او قلم راواخستو او د يو جنّتي محل يو رسيد يې اوليکلو او هغه ځلمي له يې ورکړو او يو لاکھ درهمې يې راواخستې او د ماښام نه مخکښې مخکښې يې ټول رقم په غريبانانو، مسکينانو تقسيم کړو.

د دې واقعې څلويښت ورځې تيرې شوې وې چې يوه ورځ د سحر د نـمونځ نه پس حضرت مالک بن دينار رحمۃ اللہ علیہ د جومات په محراب کښې يو کاغذ اوليدو، چې راواخستو يې نو دا هم هغه رسيد وو کوم چې هغوئي هغه ځلمي له ورکړے وو او د هغې په بَل طرف دا ليکل ښکاريدل: دا د الله پاک له طرفه د مالک بن دينار د پاره پروانه ده چې تا د کوم محل د پاره زمونږ په نوم ضمانت اخستے وو هغه مونږه هغه ځلمي ته عطا کړو بلکې د هغې نه مو ورته اويا چنده زيات عطا کړل. حضرت مالک بن دينار رحمۃ اللہ علیہ رسيد راواخستو او په

تادئ د هغه ځلمي کور ته لاړلو نو پته اولګيده چې هغه ځلمے هم پرون وفات شوے دے او دا رسيد د هغه د وصيت مطابق په کفن کښې دننه کيښودے شوے وو. (1)

سُبْحٰنَ الله! څومره ښکلے شان دے د اوليائے کرامو...!! د اوليائے کرامو د وينا څومره اهميت دے؟ د هغوئي د **الله** پاک په بارګاه کښې څومره عزت دے، د دې اندازه د دې حديث شريف نه اولګوئ! د **الله** پاک آخري نبي، مکي مَدَني صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم ارشاد اوفرمائيلو: د **الله** پاک په بندګانو کښې څه داسې هم دي که هغوئي په **الله** پاک باندې د څه کار قسم اوخوري نو **الله** پاک د هغوئي قسم ضرور پوره کوي. (2)

| | |
|---|---|
| گفتۂ اُو گفتۂ الله بَوَد | گرچه از حلقوم عبد الله بَوَد |

مفهوم: د وَلِيُّ الله وئيلے شوې خبرې په حقيقت کښې هم د **الله** پاک وئيلے شوې [خبرې] وي.

بهر حال! خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! مونږ له پکار دي چې **الله** پاک مونږ ته مال عطا کړے دے، نعمتونه يې راکړي دي، د هغې په ذريعه دُنيا نۀ بلکې آخرت اوګټو، هُم د خپل آخرت فِکر اوکړو. ځکه چې حقيقي نعمت هم هغه دے کوم چې د آخرت د آرام ذريعه جوړه شي.

## د انسان اَصلي مال

حضرت مُطرِّف رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د خپل والِد نه روايت کوي، هغه فرمائي: زه يوه ورځ په بارګاهِ رسالت کښې حاضر شوم، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د سورۀ اَلْهٰكُمُ التَّكَاثُرُ تلاوت فرمائيلو، هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: انسان وائي: زما مال! زما مال! اے اِبنِ آدم! ستا مال خو هُم هغه دے کوم چې تا اوخوړو او فنا دې کړو، وا دې غوستو او زوړ دې کړو، يا

---

1...روض الرياحين، صفحه:58، 59۔

2...بخاري، كتاب التفسير، باب يٰاَيُّهَا الَّذِيْنَ اٰمَنُوْا كُتِبَ...الخ، صفحه:1116، حديث:4500۔

دي صدقه کړو او وړاندې دي اوليږو. [1]

## باقي څه پاتې شو...؟

يو ځل د **اللّٰه** پاک د آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم په کور مبارک کښې چيلۍ ذبح کړے شوه او د هغې غوښه تقسيم کړے شوه خو د هغې د اُوګې غوښه اوساتلے شوه، اُمُّ الـمؤمِنين حضرت عائشه صدِيقه رَضِیَ اللهُ عَنْهَا اوفرمائيل: رسولِ اکرم، نورِ مُجَسَّم صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم کور ته تشريف راوړلو، پوښتنه يې اوکړه: مَابَقِيَ مِنْهَا اے عائشه! د چيلۍ په غوښه کښې څومره پاتې ده؟ ما عرض اوکړو: يَا رَسُولَ الله صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم! ټوله غوښه مو تقسيم کړه، بس د اُوګې غوښه پاتې ده. خوږ آقا، سردارِ انبيا صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: بَقِيَ كُلُّهَا غَيْرَ كَتِفِهَا ټوله پاتې شوې ده، د اُوګې د غوښې يوه ټوټه (کومه چې تقسيم نه شوه) هغه پاتې نه شوه. [2] يعني کومه چې د **اللّٰه** پاک په لاره کښې صدقه کړے شوه، هغه باقي او زوال نه لرونکې شوه او کومه چې د خپل خوراک د پاره کېښودے شوه هغه به هضم شي او فنا به شي.

د عربۍ يو شاعر ډيره ښکلې خبره کړې ده:

اَنْتَ لِلْمَالِ اِذَا اَمْسَكْتَهٗ | فَاِذَا اَنْفَقْتَهٗ فَالْمَالُ لَكَ [3]

چې تر څو پورې تهٔ مال ساتې نو تهٔ د مال يې، چې کله يې د **اللّٰه** پاک په لاره کښې اولګوې نو مال ستا شي. يعني تر څو پورې چې مال زمونږ سره دے، مال زمونږ نه دے، مونږه د مال يو، مونږه د مال حفاظت کوو، هر وخت راسره ويره وي، چې په جيب کښې

---

1... مُسلم، کِتابُ الزُّہد، صفحہ:1133، حدیث:2958۔

2... ترمذی، کتاب:صفة القيامة، صفحہ:586، حدیث:2470 بتصرف قلیل۔

3... احیاء العلوم والدین، کتاب اذم البخل...الخ، بیان فضیلۃ السخاء، جلد:3، صفحہ:305۔

راسره زيات رقم وي نو د سړک نه په تيريدو هم ويريږو، وسوسې راته راځي چې چرته ډاکو رانشي يا څوک ګنډکپ رانه جيب اونه وهي، يا که په کور کښې مو مال کيښودے وي نو هر وخت راسره دا غم وي چې ګرِل (***Grill***) اولګولے شي، مضبوطه تاله اولګولے شي، چې مضبوط صندوق واخلو، سيکورټي ګارډ اودرولے شي، په کور کښې مې دولت کيښودے دے هسې نه چې غل راشي، خو چې کله مال اولګوو، د **اللّٰه** پاک په لاره کښې يــې صدقه او خيرات کړو نو هغه مال زمونږه شي. ځکه مونږ له پکار دي چې د **اللّٰه** پاک په لاره کښې ښه صدقه اوکړو او د مال او دولت په ذريعه د جنّت ګټلو فِکر اوکړو.

## لاس ئې ښنګه شَل شو...!!

يو ځل د مسلمانانو د خوږې مور جانې حضرت عائشه صِدِّيقه رضی اللہ عنہا په خدمت کښې يوه زنانه حاضره شوه، د هغې لاس شَل (يعني بے کاره) شوے وو. هغې خپله واقعه بيان کړه او اوئې وئيل: زما والد صاحب ډير سخي انسان وو ❁ زکوٰة به يــې ورکولو ❁ ميلمستيا به يــې کوله ❁ غوښتونکو ته به يــې ورکړه کوله ❁ تر دې پورې چې د وروکې نه وروکې نيکي به يــې هم نه پريښوده. خو زما مور ډيره کنجوسه وه، په څه نيک کار کښې به يــې خپل مال نه لګولو.

مخکښې زما والد وفات شو. د هغې نه دوه مياشتې پس زما مور هم وفات شوه. بيګاه ما په خوب کښې خپل مور پلار اوليدل، په بابا جان باندې مې د زيړ رنګ دوه څادرې وې او د هغه مخې ته وَله بهيدله. ما عرض اوکړو: بابا جانه دا څه دي؟ اوئې فرمائيل: لورې! بنده چې په دنيا کښې څه نيک کار هم اوکړي هغه به د هغې انعام ويني. دا څه چې ته ويني ما ته زما رَبّ راعطا کړي دي. ما پوښتنه اوکړه: بابا جانه! د مور مې څه اوشو؟ هغه پوښتنه اوکړه: آيا هغه وفات شوې ده؟ ما اووئيل: آؤ جي! په دې باندې بابا جان اووئيل: هئ افسوس! هغه زمونږ نه لرې کړے شوه. تهٔ خپله مور کڅ اړخ ته اوګوره! زه

ګڅ اړخ ته روانه شوم، هلته ما مور په دې حالت کښې اوليده چې د هغې په لاس کښې د وازګې وړوکے شان پوتے دے او په بدن باندې يې د لَنګ نه علاوه بَل هيڅ کپړه نه وه او هغې د هئ غلطي! هئ افسوس! هئ تنده! چغې وهلې. د ډيرې تندې له کبله هغې په لاس کښې نيولې وازګه د خپل لاس په تَلي پسې مږله او بيا به يې هغه څټله. د هغې مخې ته هم وَله روانه وه. ما ترې پوښتنه اوکړه: مور جانې! تاسو د تندې تندې چغې وهئ، وَله خو ستاسو مخې ته موجوده ده. هغې اووئيل: زه د اوبو څښلو نه پخپله منع نه يم (بلکې زه د دې نه منع کړے شوې يم). بيا ما اوغوښتل چې زه ورورانډې شم او مور جانې له اوبه ورکړم، چې ما څنګه چونګ راډک کړو او په مورجانې مې اوبه اوڅښلې نو يو آواز راغے: **چا چې دې زنانه له اوبه ورکړې دي د هغې لاس دې شَل شي. هئ افسوس! چې کله زه سحر راپاڅيدم نو زما لاس شَل وو او ما په دې باندې هيڅ کار نشو کولے.**

د مسلمانانو خوږې مور جانې حضرت عائشه صِدِّيقه رضی اللہ عنہا چې کله دا واقعه واوريدله نو د هغې زنانه نه يې پوښتنه اوکړه: آيا تهٔ د هغې کپړې توته پيژنې (کومه چې ستا مور ترلې وه؟) عرض يې اوکړو: آؤ جي! دا هغه کپړه وه کومه چې زما مور يو ځل چا سوال کوونکي له ورکړې وه او هغه وازګه (کومه چې د هغې په لاس کښې وه او د هغې په ذريعه هغې د خپلې تندې ماتولو کوشش کولو، د وازګې هغه پوتے) هم هغې يو ځل صدقه کړے وو. دا يې چې واوريدل نو حضرت عائشه صديقه رضی اللہ عنہا اووئيل: اَللّٰهُ اَكْبَر! الله پاک ربښتيا فرمائيلي دي: (1)

فَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ خَيْرًا يَّرَهٗ ⑦ وَمَنْ يَّعْمَلْ مِثْقَالَ ذَرَّةٍ شَرًّا يَّرَهٗ ⑧

(پاره:30، اَلزِّلْزَال:7، 8)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: نو څوک چې د يوې ذرّے همره نيکي اوکړي هغه به هغه وِيني(۷) او څوک چې د يوې ذرّے همره بدي اوکړي هغه به هغه وِيني(۸)

---

1 ...رسائل ابن رجب حنبلی، جزء فيه الكلام على الحديث يتبع الميت ثلاثة، صفحه:429۔

اَللّٰہُ اَکْبَر! خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا دے د صدقې برکت او د کنجوسئ وبال...!!
الله پاک که مال درکړے وي، دا تر خپل ځانه پورې محدود مه ساتئ! ډېره ډېره صدقه کوئ! د زکوٰة، صدقۂ فطر کولو، د نفلي صدقو ورکولو، د غریبانانو او مسکینانو سره د همدردئ کولو او د بے وسو د امداد کولو کوشش کوئ!

## د صدقې فضیلتونه

په دویمه سیپاره، سورۂ بقره آیت 245 کښې ارشاد دے:

مَنۡ ذَا الَّذِیۡ یُقۡرِضُ اللّٰہَ قَرۡضًا حَسَنًا فَیُضٰعِفَہٗ لَہٗۤ اَضۡعَافًا کَثِیۡرَۃً ؕ

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: څوک شته چې الله له ښه قرض ورکړي نو الله به د هغه د پاره هغه قرض په ډیر چنده زیات کړي.

حضرت عثمان نَهدي رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه تابعي بزرګ دے، هغوئي ته چا اووئیل چې حضرت ابو هُریره رَضِیَ اللهُ عَنْه فرمائي چې: مؤمِن بنده ته به د یوې نیکئ په بدله کښې **لس لاکهه نیکئ** میلاویږي. (یعني که یوه روپئ د الله پاک په لاره کښې صدقه کړي نو په ثواب کښې به دا **لس لاکهه چنده** شي). حضرت عثمان نَهدي رَحْمَۃُ اللهِ عَلَیْه مدینے منورې ته حاضر شو او د حضرت ابو هریره رَضِیَ اللهُ عَنْه نه یې پوښتنه اوکړه: آیا تاسو دا ارشاد فرمائیلے دے؟ حضرت ابو هریره رَضِیَ اللهُ عَنْه اوفرمائیل: **ما دا نه دي وئیلي، ما خو وئیلي وو: الله پاک مؤمِن بنده ته د یوې نیکئ په بدله کښې شل لاکهه چنده عطا کوي.** [(1)]

سُبْحٰنَ الله! د الله پاک څومره کرم دے، مال هم د هغه، راکړے هم هغه دے، که مونږ یې د هغه په لار کښې اولګوو نو مال هم محفوظ، ثواب هم داسې چې نه شمیرلے کیږي او نه یې حساب کیږي.

---

[1] ...رُوحُ الْمَعَانِی، پاره:2، تحت الآیة:245، جلد:1، صفحه:757۔

# د صدقې کولو فضيلتونه او ثوابونه

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! ❁ صدقه او خيرات کول زمونږه د خوږ آقا و مولا، مکي مدني مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عظيم سُنت دي، د هغوئي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د درِ جُود و سخاوت نه به څوک سوالي خالي لاس نه تلو. [(1)] ❁ صدقه ګناهونه داسې ورانوي لکه څنګه چې اوبه وور مړ کوي [(2)] ❁ صدقه د دوزخ د وور نه بچ کول کوي، په **حديثِ پاک** کښې دي څوک چې د الله پاک د رضا د پاره صدقه اوکړي نو هغه صدقه د هغه او د وور ترمينځه پرده جوړه شي. [(3)] ❁ صدقه د الله پاک غضب ختموي او بد مرګ دفع (يعنې لرې) کوي. [(4)] ❁ د خوږ مصطفٰے صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے: په صدقه ورکولو کښې تادي کوئ، بَلا د صدقې نه نۀ اوړي. [(5)] ❁ صدقه کوونکے به د قيامت په ورځ د خپلې صدقې په سورې کښې وي. [(6)] ❁ صدقه د بدئ اويا دروازې بندوي. [(7)] ❁ صدقه د قبر د ګرمئ نه بچ کول کوي. [(8)] ❁ د مسلمان صدقه د هغه عمر زياتوي. [(9)] ❁ الله پاک د صدقې په برکت تکبر لرې کوي. [(10)] ❁ صدقه اويا قِسمه بلاګانې منع کوي په

---

[1] …فيضانِ سخي سرور، صفحه:6۔
[2] …ابنِ ماجه، کتاب الفتن، باب کف اللسان فی الفتنة، صفحه:640، حديث:3973۔
[3] …مُعجمِ کبير، جلد:10، صفحه:409، حديث:20584۔
[4] …ترمذی، کتاب الزکاة، باب ماجاء فی فضل الصدقه، صفحه:189، حديث:664۔
[5] …مشکاة المصابيح، کتاب الزکاة، باب الانفاق و کراهيه...الخ، جلد:1، صفحه:359، حديث:1887۔
[6] …سننِ کبری للبيهقی، کتاب الزکاة، باب التحريض علی...الخ، جلد:4، صفحه:479، حديث:7751۔
[7] …مُعجمِ کبير، جلد:3، صفحه:148، حديث:4276۔
[8] …شُعبُ الْايمان، جلد:3، صفحه:212، حديث:3347۔
[9] …مُعجمِ کبير، جلد:6، صفحه:440، حديث:13508۔
[10] …مُعجمِ کبير، جلد:6، صفحه:440، حديث:13508۔

کومو کښېږي چې د ټولو نه کمه بَلا بدن ورانيدل او سپين داغونه دي. (1)

الله پاک دې مونږ ته د د ډيرې ډيرې صدقې او خيرات کولو او د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو توفيق رانصيب کړي. اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صلَّى اللهُ عليهِ واٰلهٖ وسلَّم

## (3): قارُون ته دريم نصيحت

د بني اسرائيلو نيکانو مسلمانانو قارُون ته په دريم نصيحت کښې اُووئيل:

وَلَا تَنْسَ نَصِيْبَكَ مِنَ الدُّنْيَا (پاره:20، القصص:77)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او ددُنيا نه خپله حِصَّه مه هيروه.

په دې آيت مبارک کښې اوفرمائيلے شول چې د دُنيا نه خپله حصه مه هيروه...!! د دې نه څه مُراد دے؟ په دې باره کښې يو بزرګ رحمۃُاللهِ عليه فرمائي: د دې نه مُراد کفن دے. (2)

اَللهُ اَكْبَر! د دې دنيا نه زمونږه حصه صرف د کفن دوه څادرې دي ❀ مونږه ټول عمر اوګټله ❀ ګاډې مو هم واخستل ❀ محلونه ❀ بنګلې مو جوړې کړې ❀ په اربونو کهربونو روپۍ مو هم جمع کړې ❀ ښو ښو ميډل هم حاصل کړل ❀ د دُنيا هر قِسمه نعمت زمونږ سره دے خو مونږ به د دې دنيا نه د ځان سره څه وړو؟ صرف د کفن دوه څادرې او بَس...!! د عربۍ يو شاعر وائي:

نَصِيْبُكَ مِمَّا تَجْمَعُ الدَّهْرَ كُلَّهُ | رِدَاءَانِ تُلْوٰى فِيْهِمَا وَ حَنُوْط (3)

ترجمه: يعني تا ټول عمر اوګټله، جمع دې کړه، په دې کښې ستا حصه څه ده؟ د کفن دوه څادرې، په کوم کښې چې به ته را اونغاړلے شې او د مړي په بدن پورې کوونکې خوشبوئي!

---

1...تاريخ بغداد، جلد:8، صفحه:204۔

2...شرح الصدور، صفحه:23۔

3...التذكرة للقرطبي، باب ذكر الموت والاستعداد له، جز:1، صفحه:10۔

صرف هم دومره زمونږه حصه ده، د دې په باره کښې اوفرمائيلے شو چې د دنيا نه خپله حصه مه هيروه! يعنې کفن ياد ساته!

| | |
|---|---|
| وہ ہے عیش و عشرت کا کوئی محل بھی | جہاں تاک میں ہر گھڑی ہو اَجَل بھی |
| بس اب اپنے اِس جہل سے تُو نکل بھی | یہ جینے کا انداز اپنا بدل بھی |
| جگہ جی لگانے کی دنیا نہیں ہے | یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں |

## د بادشاهانو عبرتناکې جُملې

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! دا حقيقت دے چې مونږه په دې دُنيا کښې هر څه هم اوکړو، چې څومره هم اوګټو، څومره هم جمع کړو، آخر به زمونږ سره څه پاتې کيږي؟ څه به د دنيا نه د ځان سره وړو؟ **يو کفن...!!**

جیتے دُنیا سکندر تھا چلا

جب گیا دُنیا سے خالی ہاتھ تھا

❁ خليفه عبد الـملِک بن مروان د ډير شان او شوکت والا بادشاه وو، چې کله د هغه آخري وخت راغلے نو چا ترينه پوښتنه اوکړه: دا وخت تاسو ځان څنګه محسوسوئ؟ عبد الـملک بن مروان اووئيل: بالکل هم هغسې محسووم، لکه څنګه چې قرآن فرمائيلي دي چې،

وَلَقَدْ جِئْتُمُوْنَا فُرَادٰى كَمَا خَلَقْنٰكُمْ اَوَّلَ مَرَّةٍ وَّتَرَكْتُمْ مَّا خَوَّلْنٰكُمْ وَرَآءَ ظُهُوْرِكُمْ ج (پاره:7، اَلْاَنْعام:94)

[مفهوم]ترجمهٔ کنزُ الْعِرفان: او بيشکه تاسو مونږ له يواځې راغلئ څنګه چې مونږه تاسو په اول ځل پيدا کړي وئ او تاسو شا ته پريښودل هغه ټول مال و متاع کوم چې مونږه تاسو له درکړي وو.

**دا آيت يـې اولوستو او رُوح ئې اووتلو.** (1) ✿ خليفه هارون رشيد هم ډير د رُعب او دبدبې والا بادشاه وو، کله چې د هغه د مرګ وخت رانزدې شو نو هغه خپل کفن راواغوښتو او هغه يـې اړاوو را اړاوو او بيا بيا يـې اوکتو، بيا يـې دا آيت اولوستو: (2)

| | |
|---|---|
| مَآ اَغۡنٰى عَنِّىۡ مَالِيَهۡ ۚ﴿۲۸﴾ هَلَكَ عَنِّىۡ سُلۡطٰنِيَهۡ ۚ﴿۲۹﴾ (پاره:29، اَلْحَآقَّة:28، 29) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ الْعِرفان: زما مال زما هيڅ په کار رانغلو(۲۸) زما ټول زور ختم شو(۲۹) |

✿خليفه مُعتَصِم ډير ظالم او د سخت زړه والا بادشاه وو، کله چې د هغه آخري وخت راغـے نو په خپله بستره ملاست وو او په تکليف کښې وو او بيا بيا به يـې وئيل: لَوْعَلِمْتُ اَنَّ عُمْرِی هٰکَذَا قَصِيْرٌ مَا فَعَلْتُ که ما ته معلومه وه چې زما عمر دومره کم دے نو ما به بادشاهي نه کولے. (3)

اے د خوږ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! غور اوکړئ! دا د بادشاهانو عبرتناکې جُملې دي، هُغه بادشاهان کومو چې ژوند په عيش او عشرت کښې تير کړو، د خزانو انبارونه د هغوئي په اختيار کښې وو، د خادمانو او وينزو د هغوئي سره څه کمے نه وو خو چې کله د دنيا نه لاړل نو څه يـې يوړل...؟ صرف يو کفن...!! نور هيڅ نه. لهٰذا دا د عبرت مقام دے، مونږ له هم پکار دي چې د دُنيا جوړولو فِکر پريږدو او څه چې الله پاک راعطا کړې دي، د هغې په ذريعه د آخرت طلب شروع کړو.

بے وفا دنيا پہ مت کر اِعتبار | تُو اچانک موت کا ہوگا شکار
موت آ کر ہی رہے گی ياد رکھ! | جان جا کر ہی رہے گی ياد رکھ!

---

[1] ...احياء العلوم والدين، کتاب ذکر الموت ومابعده، باب فی کلام المحتقرين...الخ، جلد:4، صفحه:582 بتغير۔
[2] ...احياء العلوم والدين، کتاب ذکر الموت ومابعده، باب فی کلام المحتقرين...الخ، جلد:4، صفحه:582 بتغير۔
[3] ...احياء العلوم والدين، کتاب ذکر الموت ومابعده، باب فی کلام المحتقرين...الخ، جلد:4، صفحه:582 بتغير۔

موت آئی پہلواں بھی چل دیئے | خوبصورت نوجواں بھی چل دیئے
تیری طاقت تیرا فن عُہدہ تِرا | کچھ نہ کام آئے گا سرمایہ ترا
قبر میں تیرا کفن پھٹ جائے گا | یاد رکھ نازک بدن پھٹ جائے گا
کر لے توبہ رب کی رحمت ہے بڑی | قبر میں ورنہ سزا ہوگی کڑی (1)

## (4): قارُون ته خلورم نصيحت

د بني اسرائيلو نيکانو مسلمانانو قارُون ته په خلورم نصيحت کښې اُووئيل:

وَاَحۡسِنۡ كَمَاۤ اَحۡسَنَ اللّٰهُ اِلَيۡكَ (پاره:20، القصص:77) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او احسان اوکړه ځنګه چې الله په تا احسان اوکړو.

يعنې لکه څنګه چې الله پاک په تا باندې احسان اوفرمائيلو، هُم داسې تهٔ هم صدقه او خيرات کوه، په نيکو کارونو باندې مال لګوه او، د غريبانانو، مسکينانو زړونه ساته او، وږي مړوه او په هغوئي باندې احسان کوه...!! (2)

## مونږه د مال مالکان نهٔ، وکيلان يو

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا هم لوئي نصيحت دے. الله پاک مونږ ته مال عطا کړو، مونږ له هم پکار دي چې د الله پاک په لاره کښې يې لګوو او د هغه مال حق ادا کوو. دا خبره هميشه ياده ساتئ چې مونږه د مال مالکان نه يو بلکې وکيلان يو. سرکارِ غوثِ اعظم رَحۡمَةُاللهِ عَلَيه فرمائي: اَنۡتُمۡ وُكَلَاءُ عَلٰى هٰذِهِ الۡاَمۡوَال تاسو د دې مال وکيلان يې. (3)

---

1...احیاء العلوم والدین، کتاب ذکر الموت ومابعدہ، باب فی کلام المحتقرین...الخ، جلد:4، صفحہ:582 بتغیر۔
2...وسائلِ بخشش، صفحہ:711، 712 ملتقطاً۔
3...جَلاءُ الخَاطِر، مجلس: حقوق الفقراء، صفحہ:110۔

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې دا مال زمونږ نه دے، د الله پاک دے، مونږ خو بَس وکيلان يو، يعني مونږ له دا مال راکړے شوے دے او مونږه دا مال صرف هغه ځائے لګولے شو، چرته چې الله پاک حکم فرمائي، ❁ حکم دے چې: زکوٰة ادا کوئ! مونږ به زکوٰة ادا کوو ❁ حکم دے چې: فطره [يعني سرسايه] ادا کوئ! مونږ به فطره ادا کوو ❁ حکم دے چې: په غريبانانو باندې لګوئ! مونږ به يې په غريبانانو باندې لګوو ❁ حکم دے چې: په خپل بال بچ باندې لګوئ! مونږ به يې په خپل بال بچ باندې لګوو. غرض چې مال د الله پاک دے، هغه چې چرته حکم فرمائيلے دے، مونږ به يې هلته لګوو. ځکه چې الله پاک دا مال مونږ ته عطا کړے دے نو په مونږ باندې يې احسان کړے دے، لهٰذا په مونږ باندې هم لازم دي چې مونږه د الله پاک په بندګانو باندې احسان کوو، د هغوئي کفالت کوو.

## د الله پاک خوږ بنده

د الله پاک آخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: خلق د الله پاک عِيَال (يعني د هغه بندګان، د هغه محتاج) دي، د الله پاک زيات خوښ هغه دے ځوک چې د الله پاک عِيال ته زياته فائده رسوونکے وي.[1] اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

## (5): قارُون ته پينځم نصيحت

د بني اسرائيلو نيکانو مسلمانانو قارُون ته په پينځم نصيحت کښې اووئيل:

| | |
|---|---|
| وَلَا تَبْغِ الْفَسَادَ فِي الْاَرْضِ ؕ اِنَّ اللّٰهَ لَا يُحِبُّ الْمُفْسِدِيْنَ ﴿۷۷﴾ (پاره:20، القصص:77) | [مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: او په زمکه کښې فساد مه کوه، بيشکه الله فساديان نه خوښوي (۷۷) |

دا هم يو اهم نصيحت دے. مطلب دا دے چې اے قارُونه! الله پاک تا ته مال او

---

1 ...موسوعه ابنِ ابي دُنيا، کتاب: قضاء الحوائج، جلد:4، صفحه:159، حديث:24۔

دولت عطا کړو، رَبِّ کريم تا ته داسې انعامات عطا کړل، نو تهٔ اوس ګناه مه کوه، دا نعمتونه د **الله** پاک په نافرمانۍ کښې مه استعمالوه او په زمکه کښې فساد مه خوروه...!!

## د مال او دولت په ګناه کښې د خرچ کولو وبال

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د دې نه معلومه شوه چې مال په ګناهونو کښې استعمالول د لوئي هلاکت سبب دے. بے شکه مال يو نعمت دے او د دې نعمت په باره کښې به هم د قيامت په ورځ پوښتنه کيږي. **په حديثِ پاک کښې دي**: انسان به د قيامت په ورځ تر هغه وخته پورې قدم پورته نکړے شي تر څو چې د دې پينځؤ پوښتنو جواب ورنکړي (1): تا ژوند څنګه تير کړو؟ (2): ځواني دې څنګه تيره کړه؟ (3): مال دې د کوم ځائ نه اوګټو؟ او (4): کوم کوم ځائ دې اولګوو؟ (5): د خپل عِلم مطابق دې تر څومره پورې عمل اوکړو؟ [1]

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! دا د غور مقام دے. آه! نن سبا بے حسي عامه ده، مونږه مال په حلاله طريقه ګټو که په حرامه ذريعه ؟ د دې خبرې فِکر کم خلق کوي. **الله** پاک دې مونږ ته د آخرت فِکر نصيب کړي. د خپل آمدن او خرچ په باره کښې په احتياط سره اوسيدل ضروري دي. ګني دا مال مونږه دوزخ ته د بوتللو سبب هم جوړيدے شي. **الله** پاک دې مونږه د مال او دولت د حرص نه اوساتي او **الله** کريم چې کوم مال راعطا کړے دے، د دې په ذريعه دې د جنّت ګټلو توفيق رانصيب کړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيِّين صلّی اللہ علیہ واٰلہٖ وسلّم

| | |
|---|---|
| حبّ دُنیا سے تُو بچا یا ربّ! | عاشقِ مصطفٰے بنا یارَبّ! |
| آہ! طغیانیاں گُناہوں کی | پار نیّا مری لگا یارَبّ! |

---

[1] ...ترمذی، کتاب صفۃ القیامۃ، باب فی القیامۃ، صفحہ:574، حدیث:2416۔

نیم جاں کر دیا گُناہوں نے | مرضِ عصیاں سے دے شفا یارَبّ!
حِرْصِ دُنیا نکال دے دِل سے | بس رہوں طالبِ رضا یارَبّ!
کر دے جنّت میں تُو جوَار اُن کا | اپنے عطّار کو عطا یارَبّ!

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار: د سحر نـمونځ د پاره راپاڅول

خوږو او محترمو اسلامي ورونو! د اللّٰه پاک د ويرې حاصلولو او د نيک نـمونځ ګزاره جوړيدو د پاره د عاشقانِ رسول ديني تحريک دعوتِ اِسلامي په 12 ديني کارونو کښې عملاً برخه اخلئ! د دعوتِ اسلامي په 12 ديني کارونو کښې يو ديني کار دے: ”د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول“، د سحر د نـمونځ د پاره خلق راپاڅول د آخري نبي، نبئ اُميّ صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم سُنَّت دي. اَلْحَمْدُ لِلّٰه! د دعوتِ اسلامي سره د تعلق لرونکو عاشقانِ رسول يوه شميره ده کوم چې په دې سُنّت د عمل کولو د جذبې لاندې خلق د سحر د نـمانځه د پاره راپاڅوي. تاسو هم په دې ديني کار کښې حصه واخلئ! اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! ډير برکتونه به حاصل کړئ ❁ چې نور راپاڅوئ نو پخپله به هم د سحر د نـمونځ د جمعې سره د کولو سعادت حاصلوئ ❁ سحر سحر به د نيکئ د دعوت عام کولو ثواب حاصلوئ ❁ ستاسو په راپاڅولو چې څومره خلق نـمونځ کوي، د هغوئي د ټولو د نـمونځونو ثواب به هغوئي ته هم حاصليږي او اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْکَرِيم! ستاسو په اعمال نامه کښې به هم ليکلے کيږي.

## په آخري وخت کښې يې کلمه نصيب شوه

د ديپال پور (ضلع اوکاړه، پنجاب، پاکستان) د يو اِسلامي ورور بيان دے: زما تړۀ محمد رفيق عطاري د دعوتِ اِسلامي د ديني ماحول سره تعلق لرلو او د شيخِ طريقت، اميرِ اهلسنت دَامَتْ بَرَکَاتُهُمُ الْعَالِيَه مُريد وو، خلق د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅول د هغه معمول

وو، سحر به تر لرې لرې پورې تلو او مسلمانان به يې د سحر د نمونځ د پاره راپاڅول، په دې عادت باندې په ټول ديپال پور کښې مشهور وو، يو ځل د فيصل آباد نه واپس کور ته راروان وو، د ماسخُتن د نمانځه وخت شو نو ګاډے يې اودرولو او نمونځ يې ادا کړو او بيا يې سفر شروع کړو، ګاډے بنه په خپل رفتار روان وو، ناڅاپه محمد رفيق عطاري په تيز آواز کلمه اووئيله او اوئې فرمائيل: ټول کلمه اولولئ، ټولو کلمه اولوستله، لږ ساعت تير شوے وو چې ناڅاپه ګاډي تيزه جټکه اوخوړله او ګاډے کندې ته پريوتو، ټول خلق معمولي زخميان شول خو محمد رفيق عطاري ډير زخمي شو، د سخت تکليف باوجود د هغه په ژبه باندې کلمه شريف جاري وه او مَاشَآءَالله! قِسمت ته يې اوګورئ! په کلمه وئيلو وئيلو کښې د دُنيا نه رخصت شو. (1)

فضل و کرم جس پر بھی ہوا، لب پر مرتے دَم کلمہ | جاری ہوا، جنت میں گیا، لَآاِلٰهَ اِلَّاالله

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## مدني قاعِده (Madani Qaida) موبائل ايپلي کيشن

خوږو او محترمو اسلامي ورونړو! د قرآنِ کريم فيضان عام کولو د پاره د دعوتِ اسلامي I.T ډيپارټمنټ يو موبائل ايپلي کيشن هم جاري کړے دے، د کوم نوم چې **مَدَني قاعِده** (Madani Qaida) ده. په دې ايپلي کيشن کښې مکمله مَدَني قاعِده او د دې آډيو (Audio) شامله کړے شوې ده يعني په دې ايپلي کيشن کښې چې تاسو د مَدَني قاعِدې په کوم حرف يا کوم لفظ باندې کلک (Click) کوئ، په آډيو (Audio) کښې به د هغې تَلَفُّظ چليږي، داسې د دې ايپلي کيشن په مدد سره په آسانئ سره مَدَني قاعِده لوستل، د دې مشق (Practice) کول او صحيح مخارج او ضروري تجويد زده کيدے شي. دا ايپلي

---

1 ...حيرت انگيز حادثہ، ص25۔

کيشن په خپل سمارټ فون کښې انسټال کړئ، پخپله ترې هم فائده واخلئ او نورو ته هم د دې ترغيب ورکړئ.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

## د رانجو پورې کولو سُنَّت او آداب

**د آخِري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم فرمان مبارک دے:** په ټولو رانجو کښې بهترين رانجه اِثمد دې ځکه چې دا نظر روښانه کوي او باڼه راټوکوي. [1]

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د کاڼي د رانجو په استعمالولو کښې هيڅ باک نشته او ❀ تور رانجه يا ګَجَل د ښائسته کيدو په نيت سره د نارينؤ د پاره پورې کول مکروه دي او که چرې ښائست مقصد نه وي نو بيا مکروه نه دي ❀ رانجه د شپې د اوده کيدو په وخت پورې کول سُنَّت عمل دے ❀ د رانجو پورې کولو د 3 نقل شوو طريقو خلاصه ستاسو په خِدمت کښې وړاندې کوو: **(1)**: کله په دواړو سترګو کښې 3، 3 سلايانې **(2)**: کله په ښئ سترګه کښې 3 سلايانې او په ګڅه سترګه کښې دوه **(3)**: نو کله په دواړو سترګو کښې دوه، دوه او بيا په آخِره کښې يوه سلائي په رانجو کښې اووهئ او هغه په نمبر نمبر په دواړو سترګو کښې پورې کړئ د داسې کولو سره به اِنْ شَآءَ اللّٰهُ الْكَرِيم! په دريو واړو طريقو باندې عمل کيږي.

اے د خوږ نبي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! د تکريم چې څومره هم کارونه دي هغه ټول به زمونږه خوږ آقا صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم د ښي اړخ نه شروع کول، ځکه ورومبے په ښئ سترګه کښې رانجه پورې کوئ بيا په ګڅه کښې . [2]

---

[1] ...ابن ماجه، کتاب:الطب، باب:الکحل بالاثمد، صفحه:566، حديث:3497۔

[2] ...550 سُنّتیں اور آداب، صفحه:38۔

عجب نہیں کہ لکھا لوح کا نظر آئے! | جو نقشِ پا کا لگاؤں غبار آنکھوں میں

د مختلفو سنتو زده كولو د پاره د مكـتـبة الـمدينه د **بهارِ شريعت** جلد: 3 نه حصه نمبر 16 او د شيخ طريقت، امير اهلسنت علامه مولانا أبو بلال محمد الياس عطار قادري رضوي دَامَتْ بَرَكَاتُهُمُ الْعَالِيَه د 91 صفحو رساله **550 سنتیں اور آداب** واخلئ او اويې لولئ! د سنتو زده كولو يوه بهترينه ذريعه د دعوتِ اسلامي مَدَني قافلو كښې د عاشقانِ رسول سره د سنتو ډک سفر کول هم دے.

اُلفتِ مصطفٰے اور خوفِ خُدا | چاہئے گر تمہیں قافلے میں چلو
عِلْم حاصِل کرو! جَہل زائِل کرو! | پاؤ گے راحتیں قافلے میں چلو

الله پاک دې مونږ ته د عمل كولو توفيق راعطا كړي.

اٰمِين بِجَاهِ خَاتَمِ النَّبِيّٖن صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم.

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

# د دعوتِ اسلامى هفته واره د سُنَّتو ډكه اجتماع كښې لوستلو والا (6) دُرودِ پاك او (2) دُعاګانې

## ﴿1﴾ د شَبِ جُمعے [يعني د جُمعے د شپې] دُرُود

اَللّٰهُمَّ صَلِّ وَسَلِّمْ وَبَارِكْ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدِ نِالنَّبِيِّ الْاُمِّيِّ الْحَبِيْبِ الْعَالِى الْقَدْرِ الْعَظِيْمِ الْجَاهِ وَعَلٰى اٰلِهٖ وَصَحْبِهٖ وَسَلِّمْ

بُزرګانو فرمائيلي دي چې څوك هره شَبِ جُمعه (يعني د جُمُعے او زيارت مينځنئ شپه باندې) دا دُرُود شريف پابندئ سره كم ازكم يو ځل لوَلي [هغه به] د مرګ په وخت كښې د سركارِ

مدينه صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم دِيدار كوي او قَبْر كښېږي د داخلېدو وخت كښې هُم، تر دې چې سركارِ مدينه صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم به هغه قَبْر كښې د خپل رَحمت نه ډكو لاسو باندې كوزوي.[1]
راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿2﴾ ټول ګناهونه مُعاف

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا وَ مَوْلَانَا مُحَمَّدٍ وَّ عَلٰى اٰلِهٖ وَسَلِّمْ

حضرتِ سيِّدُنا انَس رَضِیَ اللّٰہ عَنْہ نه روايت دے چې تاجدارِ مدينه صَلَّی اللّٰہ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمائيلي دي: څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي كه ولاړ وو نو كښيناستلو نه مخكښې او كه ناست وو نو اودرېدلو نه مخكښې به د هغه ګناهونه مُعاف كړے شي. راځئ چې مونږه هم په شريكه دا دُرُود اووائيو.

## ﴿3﴾ د رَحمت اويا دروازے:

صَلَّى اللّٰهُ عَلٰى مُحَمَّد

څوك چې دا دُرُودِ پاك لوَلي په هغه به د رَحمت اويا دروازے بيرته كړے شي.[2] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريكه اووائيو.

## ﴿4﴾ د شپږ لاكه دُرُودشريف ثواب

اَللّٰهُمَّ صَلِّ عَلٰى سَيِّدِنَا مُحَمَّدٍ عَدَدَ مَا فِیْ عِلْمِ اللّٰهِ صَلَاةً دَآئِمَةً بِدَوَامِ مُلْكِ اللّٰهِ

حضرت اَحمَد صَاوِى رَحمَۃُ اللّٰہ عَلَیْہ د بَعضو بُزرګانو نه نَقل كوي: دا دُرُود شريف يو ځل

1 ... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة السادسة والخمسون، ص١٥١ملخصًا

2 ... القول البديع، الباب الثانى، ص٢٧٧

لوستلو باندې د شپږو لاکو دُرُود شريف لوستلو ثواب حاصِليږي.[1] راځئ چې په شريکه ئې اُووائيو.

## ﴿5﴾ قُربِ مُصطَفٰے صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ کَمَا تُحِبُّ وَتَرْضٰی لَہٗ

يوه ورځ يو کس راغلو نو حُضُورِ اَنور صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم هغه د خپل ځان او صِدِّيقِ اکبر رَضِیَ اللہُ عَنْہُ تر مينځه کښينولو، په دې باندې صَحابَۀ کرام رَضِیَ اللہُ عَنْہُم حيران شو چې دا څوک ذِی مَرتبه [يعني اوچتې مرتبے والا] دے! چې کله هغه لاړو نو سرکار صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم اوفرمائيل: دے چې کله په ما باندې دُرُودِ پاك لَوَلي نو داسے ئې لَوَلي.[2] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿6﴾ دُرُودِ شَفاعت

اَللّٰھُمَّ صَلِّ عَلٰی مُحَمَّدٍ وَّاَنْزِلْهُ الْمَقْعَدَ الْمُقَرَّبَ عِنْدَکَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ

د شفِيعِ اُمَّت صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم فرمانِ مُعَظَّم دے: څوك چې داسې دُرود شريف اولَوَلي، د هغه د پاره زما شفاعت واجب شي.[3] راځئ چې دا دُرُود هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿1﴾ د يو زر ورځو نيکئ:

جَزَی اللہُ عَنَّا مُحَمَّدًا مَا هُوَ اَهْلُهٗ

حضرتِ سَيِّدُنا ابنِ عباس رَضِیَ اللہُ عَنْہُمَا نه رِوايت دے چې سرکارِ مدينه صَلَّی اللہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

---

1... افضل الصلوات على سيد السادات، الصلاة الثانية والخمسون، ص١٤٩

2... القول البديع، الباب الاول، ص١٢٥

3... الترغيب والترهيب، كتاب الذكر والدعاء، ٢/٣٢٩، حديث:٣٠

فرمائيلي دي: د دې د لوستونکي د پاره فرښتے يو زر ورځو پورې نيکئ ليکي.[1] راځئ چې مونږه ئې هُم په شريکه اووائيو.

## ﴿2﴾ داسې ده لکه شبِ قدر ئې چې حاصل کړو

فرمانِ مُصطَفٰے صَلَّى اللّٰهُ عَلَيۡهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم: چا چې دا دُعا درې ځله اولوستله نو لکه هغه چې شَبِ قَدر حاصل کړو.[2] راځئ چې مونږه هُم دا دُعا په شريکه اووائيو.

لَآ اِلٰهَ اِلَّا اللّٰهُ الۡحَلِيۡمُ الۡكَرِيۡمُ ، سُبۡحٰنَ اللّٰهِ رَبِّ السَّمٰوٰتِ السَّبۡعِ وَرَبِّ الۡعَرۡشِ الۡعَظِيۡم

صَلُّوۡا عَلَى الۡحَبِيۡب! ❁❁❁ صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

---

1... مجمع الزوائد، کتاب الادعية، باب فی کيفية الصلاة...الخ، ۲۵۴/۱۰، حديث:۱۷۳۰۵

2... تاريخ ابنِ عساکر، ۱۵۵/۱۹، حديث:۴۴۱۵